مطبوعاتي اعلامیه

## د حزب التحریر دعوتگران تاسو د کامل او شامل اسلام پلي کولو ته رابولي؛ ایا ستاسو ځواب زندان دی؟

د حزب التحریر یو شمېر دعوتگران په کابل او کاپیسا ولایتونو کې خلافت او د امت یووالي ته د دعوت په «جرم» زنداني شوي دي. دوی له څو میاشتو راهیسې بندیان دي، خو تراوسه له خپلو کورنیو سره د لیدنې اجازه نه ده ورکړل شوې. په داسې حال کې چې د اختر په شپو کې د نظام نظامي مخالفینو، برمته کوونکو، قاتلینو او لارشکوونکو په گډون ټولو زندانیانو له خپلو کورنیو سره د لیدنې اجازه درلوده. دا ادعا هسې بې‌بنسټه توجیه ده، چې گواکې د تحقیق پروسه یې نه ده بشپړه شوې. د نظام د رهبرۍ فرمان دا دی، چې «تورن کس» باید تر نیول کېدو لس ورځې وروسته محکمې ته معرفي شي. خو نه یوازې دا چې دغه فرمان تر پښنو لاندې شوی، بلکې پر دعوتگرانو او د هغوی پر کورنیو بېلابېل فشارونه هم راوړل شوي.

موږ د نظام هغو مسوولینو ته چې د مسلمانو دعوتگرانو پر وړاندې دغه ډول ناروا او تبعیضي چلند او ښکاره ظلم کوي، تذکر ورکوو چې د حزب التحریر فعالیت ظلم نه دی او نه هم له شرعي اړخه حرام دی، بلکې هغه کسان حرام عملونه کوي، چې دعوتگران زنداني کوي او بیا پر دوی او کورنیو یې رواني او فزیکي فشارونه راوړي. هغه کسان چې په هر دلیل دغه کار ترسره کوي، د اسلام له نظره مجرمان دي او باید له الله سبحانه وتعالی څخه ووېرېږي، ځکه چې همدغه عملونه به د اخرت په ورځ د دوی پر ضد شاهدي ورکوي.

د حزب التحریر دعوتگران د امر بالمعروف او نهی عن المنکر او د حکامو د محاسبې په برخه کې د خپل تکلیف په ادا کولو سره، تاسو رابولي چې اسلام باید په افغانستان کې په هراړخیز ډول پلی شي او بیا د نړۍ نورو ملتونو ته ولېږدول شي، ایا هغه کسان زنداني کوئ، چې تاسو د خیر لوري ته رابولي؟ د حیرانتیا خبره ده، چې د دعوتگرانو له خیرغوښتنې څخه اندېښنه لرئ، خو له هغو کسانو څخه اندېښنه نه لرئ، چې تاسو د نړیوال کفري نظم په لوري او له استعمارگرو هېوادونو او د هغوی له مزدورو سازمانونو سره نږدې کېدو ته رابولي؟ برعکس د نظام ځینې مسوولین له هغو سره نږدې کېدل لاسته راوړنه بولي، په داسې حال کې چې هغه لار، چې دوی دعوت ورته کوي، دوزخ ته تللې. د حزب‌التحریر دعوتگران له تاسو څخه یوازې د اسلام بشپړ پلي کول او لېږد غواړي، له شک پرته که چېرې دغې غوښتنې ته لبیک ووایئ، تاسو به پر سیمه‌ییز او نړیوال قدرت بدل شئ. خو که چېرې د الله سبحانه وتعالی احکام په بشپړه توگه پلي نه کړئ، دغه دعوتگران به تاسو ارام پرېنږدي او تل به تاسو امر بالمعروف او نهی عن المنکر او محاسبه کوي، که څه هم په دې لار کې ډېرې سختۍ او کړاوونه وگالي.

د نظام مخلصینو ته زموږ تذکر دا دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«**كُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه**» (رواه بخاري)

***ژباړه:** تاسو هر یو شپون (مسول) یئ او د خپل رعیت پوښتنه به درڅخه کېږي. امام شپون (سمبالوونکی) دی او د خپل رعیت پوښتنه به ترې کېږي.*

د دغه حدیث پر اساس مسولین د خپل رعیت او تر لاس لاندې کسانو په اړه مسول دي. نو دا د مسولینو مکفلیت دی چې د هغو کسانو مخه ونیسي، چې د مسلمانو دعوتگرانو پر وړاندې ناروا او فتنه اچوونکي عملونه ترسره کوي، ځکه دوی به د خپل رعیت او تر لاس لاندې کسانو په اړه الله سبحانه وتعالی ته د اخرت په ورځ ځواب وایي.

موږ باید د بگرام زندان په څېر د شوروي، امریکا او ناټو اشغالگرو د زندانونو له ترخو او ځورووونکو تجربو څخه پند واخلو. دوی هغه زندانونه د افغانستان د مسلمانانو د شکنجې لپاره په وېرووونکو ځایونو بدل کړي وو، چې ډېری مجاهدین له هغو ځایونو څخه بدې خاطرې لري. نو هغه کسان چې د اسلام، ایمان او جهاد ادعا لري، د اسلام احکام باید د ژوند په ټولو برخو کې مراعات کړي او عملونه، سیاست او چلند یې باید له ظالمانو او اشغالگرو سره متفاوت وي، په ځانگړې توگه د استخباراتو او قضایي نظام په برخه کې. د مسلمانانو الگو رسول الله صلی الله علیه وسلم دی. هغه صلی الله علیه وسلم له زندانیانو سره د هغوی له مشرکوالي سره سره، ډېر نېک او حسنه چلند کاوه. نو ایا تاسو له مسلمانانو او دعوتگرانو سره دغه ډول ناوړه او ظالمانه چلند کوئ؟

د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر

**یکشنبه د شوال ۲۵، ۱۴۴۵هـ**

**2024/05/04م**

**گڼه: ح.ت.افغ 21/۱۴۴۵**